شاه محمود مستمند ۲۰۱۰/۱۰/۱۳

# د سـولی خـوړی آوازی
## او د جاه طلبانو سپکی لړزی

د کابل په نړیدلی او تاریخی ښار کی د سولی د جرگی خبری واقعاً در هر وطن دوست افغان لپاره د ډیری زیاتی خوشی سبب دی او که خدای وکړی چه زموږ په وران ویجاړ هیواد کی سوله را منځته شی دا به نو د هیواد په غم لړلی تاریخ کی ستره د خوشحالی خبره وی، او دا ورځ باید د هیواد په تاریخ کی د یوه ستر جشن په شان ولمانځل شی.

د سولی د راتګ لپاره افغانی دود او رواج دادی چه باید د سولی لپاره بیطرفه جرگه تعیین ترڅو هغه د دوو متخاصمو ډولو تر منځ روغه او جوړه راولی او ددی روغی جوړی لپاره هیڅ رقم شرط باید نه وی ځکه شرطونه د سولی د راتګ مخه نیسی. او که مخالفین د اساسی قانون تغییر ته اشاره کوی د هغوی دلیل پدی خاطر معقول معلومیږی چه دا قانون د اشغالگرو تر برچو لاندی جوړ شو او په عمل کی گنج الفساد دی او د هغه پر ځای باید هغه قانون رامنځته شی چه هغه ملل متحد دیوه تاریخی قانون په نام پیژنی، چه هغه د پخوانی روغی جوړی اساسی قانون وه، او ملل متحد هغه ته د افغانستان یوازنی تاریخی، دموکراتیک او معقول قانون خطاب کړی دی، چه په هغه قانون کی هم د رییس جمهور وظایف او حقوق معلوم ول، هم د قاضی القضات او هم د" قانونی" غلو وظایف معلوم وه او داسی قانونی گډوډی نوه لکه نن.

اما د سولی د عالی شورآ را منځته کیدل که له یوی خوا د سولی خواته مثبت حرکت دی خو متأسفانه ددی شوری د رییس په صفت د برهان الدین ربانی او نورو داسی افرادو تعیین چه هغوی د ۱۹۹۲ کال د سولی ملی پروگرام چه هغه هم د ملل متحد تر څارنی لاندی وه هغه پلان یی له منځه یووړ او هیواد یی د وینو په داسی حمام بدل کړ چه تر اوسه لا د پاسه د بمونو باران او کښته د وینو بیالی بهیږی. نو د وطن قسم خوړلی دشمنان به څنگه نن وطن ته د سولی د راوړلو لپاره سبب شی؟

لیکن څو اساسی او عمده سوالونه چه په لاندی ډول دی باید یو څوک پیدا شی چه ځوابونه ورته وویل شی:

دا سوال ته به څوک ځواب راکړی چه ددی روغی جوړی د عملی تطبیق زمه واران څوک دی؟

او همدارنگه که مخالفین له دولت سره د خارجی قواوء د وتلو شرط را منځته کړی نو خارجی قوتونه چه نه چا را غوښتی او نه هم کوم قرارداد موجود دی چه دهغه له مخی باید ووزی، نو دا قوتونه به څوک باسی ؟

که بیا هم دا قبوله کړو چه خارجی قوتونه به ووزی نو پداسی حال کی چه موږ ملی دشمن ماتوونکی اردو د پخوا پشان نلرو، نو به له پاکستان سره د سرحد د ساتلو قوت به له کو مه پیداشی ؟

او هغه کمپونه چه له دیرشو کالو راهیسی په پاکستان کی د تروریستانو د تعلیم، تربیی ، تمویل او مسلح کیدو او افغانستان ته د مصؤن را تیریدو په هدف جوړ شوی وه او باید د پخوانی سولی د پلان له مخی له منځه وړل شوی وای ! لیکن د خاصو غرضونو لپاره پاته شول، د هغه له منځه وړل، او که یی څوک له منځه نسی وړای ؟ ددی کمپونو څخه د تروریستانو د بیا راتګ مخنیوی به څوک وکړی او زمه واری به څوک ورکړی؟

ځکه چه دا کمپونه لاتر اوسه د پخوا پشان د تروریستان د تعلیم ، تربیی، تمویل او مسلح کیدولو اډی دی او لدی سره چه ناټو په دی باندی په ټوله معنی پوهیږی، لیکن له پاکستان سره د کمک په نامه په عمل کی ددی کمپونو سره کمک دی او دا کمپونه هم ستراتیژیک کمپونه دی او ددی ستراتیژیکو کمپونوموجودیت هم د ناټو د گټو لپاره دی. که د ناټو د گټی لپاره نوای نو بیا به دی سوال ته څوک ځواب ووایی:

چه که په پاکستان کی موجود کمپونه د تروریستانو وی نو بیا ولی ناټو دا کمپونه چه دریش کاله پخوایی پخپلو ناولو لاسو جوړ کړی او د ژینو د موافقی پر اساس یی باید لا په ۱۹۹۲ کی له منځه وړی وای لیکن تر نن پوری نه تنها پاته بلکه تر پخوا لا فعال دی ولی؟

هغه داچه:

پرون جهادی تنظیمونو ته ټولی ناټو او عربی نړی د هرڅه کمک کاوه، لیکن نن ټوله غربی نړی په داخل کی له ټولو جهادی تنظیمو سره سره یوازی د یوڅو زرو لغړو طالبانو او څو سوو مسلح پنجابیانو مخه نسی نیولای؟ هغه هم له ټولو عصری سلاحو او تخنیک سره ایا دا ممکنه ده؟

نو که له یوی خوا د تروریزم مور یعنی پاکستان د جهان د تروریستی اډو مرکز دی، له بلی خوا د پنجاب اولین او ستراتیژک هدف په افغانستان کی جگړه ده او هغه هم تر ورستی افغان پوری. نو د تروریستانو گرنتی چه دسرحد څخه د نه راتیریدو او د سولی د پلان په عمل کی د تطبیق کیدو لپاره به گرانتی له کومی" آسمانی" خوا تر لاسه شی؟

داځکه چه:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

پاکستان د لومړی ځل لپاره له محمد داود خان سره مقابله وکړه او د نوی جمهوریت په راتلو سره یی هغه ته هغه ډلی چه د جمهوریت سره یی دشمنی لرله او د قدرت د نیولو لپاره یی د ماکیاولستی طریقو څخه کار واخیست، را پورته کړی او په وطن کی یی ورانونکی عملیات په پنجشیر او بعضی نورو ځایونو کی وکړل خو له نیکه مرغه دپنجابی جاسوسانو عملیات کوم زیات تاوان ونه رساوه ، لیکن پاکستان د افغان ولس د کاملی تباهی لپاره لپاره پیداکړه او هغه ناولی لپاری ته یی د جهاد مقدس نام پداسی حال کی ورکړ چه نه وطن اشغال وه او نه هم داودخان ملحد وه ، ورکړ چه د ډیرو ناولو انسانانو له خولی د ناولو ارمانونو لپاره دا مقدسه کلمه استعال شوه او لا استعمالیږی.
په دوهم وار کله چه په هیواد کی د ثور د اومی نیتی کودتا منځته راغی نو د پاکستان او دهغه د جاسوسانو لپاره د وطن د بی دریغه خرابی لپاره شه پوره بهانه برابره شوه او "جهاد" هم له پخوا څخه لا گرم شکل غوره کړ او تر دی مقدس نام لاندی جهادیانو د خپلی مور د نابودی لپاره له هیڅ ډول خرابی څخه دریغ ونه کړ، او ددی نوی رژیم له راتگ څخه لا څو ورځی تیری نوی چه جهادیانو د پاکستانی ملیشو په مستقیمه همکاری د ځدرانو په منطقه کی یوه ولسوالی تصرف کړه او د دی تصرف سره دجهاد په مقدس نام سره شروع شول.

دریم وار کله چه د افغانستان په خلق دموکراتیک حاکم گوند کی د قدرت ته د رسیدلو درنه مسابقه وه ، نو هغه چا چه د لیونی په شان د قدرت مستی اخستی وه او په هیڅ وجه یی، نه داخلی شرایطو ته وکتل او نه هم مذهبی شرایطو ته چه جامعه اسلامی جامعه ده او په سرو لشکرو داخلیدل د حزب د نابودی معنی لری، او نه هم خارجی وضعه په نظر کی و نیوله شوه ، چه هیواد به د شرق او غرب په مسابقه بدل شی، بلکه یوازنی ستراتیژیک ارمان یعنی قدرت ته رسیدل وه هغه هم د شاه شجاع پشان د سرو قواؤو په ټانکونو په زور هیواد اشغال اوځان یی د انترناسیونالیزم نماینده په صفت د کابل تاج او تخت ته را ورساوؤ ، نو د پنجابیانو او د جهادی جاه طلبانو غوا لنگه شوه او د وطن دخرابی گرمه میله تر پخوا لا گرمه شوه.
دسرو قواوو لخوا د وطن اشغال، د وطن د مکملی ورانی لپاره پداسی حال کی لپاره هواره کړه چه جاه طلبو تنظیمونو لا پخوا له اشغال څخه د سردار محمد داود خان پرضد لا د مقدس جهاد غږ په ناحقه پورته کړی وه. نو کله چه وطن په رشتیا اشغال شو او جهاد د اسلام د مقدسو احکامو پر اساس لازمی شو، نو بیا بعضی جهادی تنظیمونو د جهاد پر عوض، تجارت شروع کړ او له اشغالگرو سره یی د خپل ځان او تنظیم د ساتنی لپاره دوامداره قراردادونه وکړل او یوازی د افغانانو وژل یی جهاد باله او بس.
خو دروځو په تیریدو سره ډیر د حاکم گوند دی مطلب ته متوجه شول چه:
که سری قواوی د افغانستان سره د کمک لپاره را بلل شویوی؛ له بهر څخه د تجاوز دفع او طرد، چه همیشه به په افراطی او درواغجنو بیانیو کی تکراریدو، لیکن په عمل کی ټول قوتونه د لویو شارو په دفاع بوخت ول. نو کله چه دا مطلب د سوال په توگه طرحه شوچه:
که د انترناسیونالیزم قوتونه له افغانستان څخه د دفاع او دتجاوز د طرد او دفع لپاره راغلی وی نو بیا لازمه ده چه دا قوواوی سرحدونو ته ولاړی شی ترڅو په عمل کی هغه تجاوز چه له پاکستان څخه صورت نیسی دفع او طرد شی، نوپدی صورت کی د قواوو موجودیت په شاروکی لازم نه بلکه بیمورد هم دی، نو هغه وه چه د قواوو پاته کیدل او د جنگ سختیدل دی ته لاره جوړه کړه چه؛ یا باید سری قوواوی سرحد ته ولاړی شی او د تجاوز دفع او طرد کړی او یا خو د جنگ د مخنیوی لپاره بهتره ده چه دا تجاوزگر قوتونه ووزی او وطن د جهاد له وجیبی خلاص او افغانان باید ځانونه مستقلی دفاع ته تیار کړی.
له څو کالو مقابلی او سختی مبارزی ورسته، وطن دوست قوتونه بریالی شول چه په عمل کی له هغو ډارنو او بیگانه پرستو څخه میدان وگټی چه ځانونه یی د وطن دمستقلی دفاع لپاره تیار کړی ول.

امریکا او روسیې د ژنیو د تړون لپاره د خپلي خوښې وړ شرایط برابر کړل، لیکن د تعجب وړ موضوع دا شوله چه:
د ژنیو د موافقو گرانتی کونکو یعنی شوروی او امریکا په ډیر آگاهانه ډول سره د ژینو موافقی کاملاً په یو جانبه ډول عملی کړی.هغه داچه:
د شوروی اتحاد د قوواو د هری نظامی قطعی له وتلو سره سم باید او حتماً د پاکستان له خاوری د یوه کمپ چه په هغه کی پخوانیو تنظیمونو ته تعلیم ، تربیه او د اوسیدو شرایط برابرول او هغوی یی مسلح کول او د افغانستان داخل ته به یی رالیږی ، هم باید بند شوی او له منځه تللی وای.
متأسفانه چه په عمل کی داسی ونه شول او پخوانی کمپونه په پخوانی حال پاته شول او حتی اوس چه له دوهم اشغال یعنی شنه اشغال څخه هم لس کاله پوره کیږی، زموږ د وطن د خرابی اصلی وجه د پاکستان په تروریستی خاوره کی د تروریستی کمپونو موجودیت دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نن هم عین حالت دی ځکه چه په وطن کی خارجی قواوی موجودی دی او که دا قواوی د کمک لپاره وی نو ځای او جایداد یی معلوم دی چه سرحدونه ونیسی او یا هم تر ۲۰۰۰ کیلومتره سرحد تر ساتلو د ۲۰۰۰ بمونه اورول په هغو اډو باندی چه تروریستان تربیه، تسلیح او تمویل کوی لازمی خبره ده، او که له حقیقی دشمن سره د مقابلی توان او خیال نلری نو بیا لازمه ده چه دا غیرتی قوتونه ووزی او د افغان مجاهد ولس د جهاد له وجیبی خلاص شی،ځکه چه د هغو لپاره اوسنی جګړه جهاد دی.

نوکه اوس سوله کیږی همدا تروریستی کمپونه به له منځه ځی او که به د نن پشان بیا له همدی کمپونو زما په وطن کی بیا د تروریزم میله د نن او پرون پشان ګرمه وی؟!
داځکه چه:
هرڅه له پاکستان څخه راځی که د پرون مجاهد وه او که د پرون او نن طالب، که تروریست، که القاعده، هغه هم له ډیرو غټو سلاحو سره، لیکن هیڅوک نه افغان دولت، نه ناټو او نه ملل متحد ددی سوال نه طرح کوی چه ددی ناولی جنګی چینی مخه ونیسی؟ ولی مسؤول مقامات عملی اقدام نکوی؟
حتی ناټو هغه عام بین المللی قوانین په ډیره بی شرمی د خپل پخوانی ګوډاګی پاکستان پخاطر تر پښو لاندی کوی او سترګی ورباندی پټوی؛ د تروریزم کمپونه، تعلیم، تربیه او د اوسیدو شرایط برابرول او د هغوی مسلح کول او په مطمین ډول تر عملیاتی هدف پوری رارسول، دا هرڅه د پاکستان لخوا تر سره کیږی. چه ناټو اصولا حق لری چه پردی کمپونو جنګی عملیات وکړی لیکن دوی دا کار نه کوی او که د پرون پشان په غلطی سره څو نفره پنجابیان په عملیاتو کی ووژل شی نو برعکس، پنجابیان ناټو ته لازم درس ورکوی.
او که د پخوا پشان دا سوال څوک مطرح کړی چه که د ناټو د راتګ هدف که داوی چه:
د افغانستان له خاوری د تروریزم په مقابل کی دفاع وکړی او هغه دفع او طرد کړی؟ نو آیا تروریزم د افغانستان په کلیو او بنډوکی زیږی او که د پاکستان په کمپو کی؟
کله چه څوک ددی معلومی تروریستی منبع، اډی، ستراتیژیکی وسلی او یا د نړی د ثبا کوونکی بلا پرضد چه آدرس او تیکانه یی هم هر چاته معلومه وی او دهغه پرضد عمل نه کیږی نو باید داسی قضاوت وشی چه:
زموږ هیواد له یوه اعلان شوی جګړی سره چه هدف یی د طبعی منابعو چور، چپاول او غارت کول دی، مخامخ ده او ددی اعلام شوی جګړی څخه د خلاصون لپاره باید له ملل متحد نه جلا یعنی له اسلامی هیوادو له کنفرنس څخه کمک و غوښتل شی چه موږ لدی لعنتی بلا څخه د خلاصون لپاره کمک وکړی.
داځکه چه:
همدا ملل متحد وه چه په ډیر آګاهانه او حساب شوی ډول یی د ژینو موافقی نقض کړی؛ د تروریستانو ځالی چه باید ورانی شوی وای هغه یی د ناټو په اشاره سلامتی بیله دی چه یو کمپ او یا یوه تروریستی اډه دی ورانه کړی، هرڅه یی د سبا لپاره ثابت پریښودل چه دادی لس کاله خو تیر شول چه هیچا ددی تروریستی اډو د ورانیدو تصمیم ونه نیو.
نو سبا ته به څوک ددی تروریستی اډو څخه د پاکستانی او یا القاعده او یا نورو تروریستانو د راتګ مخه ونیسی؟!
تر ټولو مهمه او دلچسپه موضوع داده چه نه تنها ماسکو – تهران – پنجاب او ناټو د سولی د اولی پلان د نابودی مسؤول دی بلکه ملل متحد تر دی ټولو زیات خیانت وکړ او دهغه اولی د سولی پلان د بربادی مخه یی ونه نیوله،ځکه چه د هغه وخت رییس جمهور په ډیر صراحت دا مطلب د ملل متحد لوړو مقاماتو ته رسولی وه چه:
یا د سولی د پلان تطبیق له هغی نیتی چه ټاکل شوی وه را مخته کړی او یا داچه ماته د سولی د پلان پر ضد د کودتا د خنثی کیدو اجازه راکړی ترڅو هغه خنثی شی او بیا د ملل متحد پلان تطبیق کړی، ځکه چه د کارمل – مسعود کودتا د ملل متحد د پلان سره موازی او په عین وخت کی تطبیق شوه ، چه دواړو پیشنهادونه د بین سیوان لخوا رد شول، چه د عبدالوکیل لخوا ورته په پوره اندازه رشوت ورکړ شوی وه. چه محترمی نغمی تر دی عنوان لاندی یوه ښکلی سندره هم په هم هغه وخت کی ویلی وه.
نو د اوسنی پلان سره لا اوس هم ناټو، د شمال ټیټو، او د روسیی شرمیدلی سوسیالستان او نورمخالف دی او غواړی د زور له لیاری سوله پر افغان مجاهد ولس عملی کړی. پداسی حال کی چه په زور باندی عربو په سل هاوو کالونو ونه شوای کولای چه یو انسانی مذهب ورباندی قبول کړی.
نو لازمه داده چه دا د سولی پلان باید افغانی وی نه خارجی، او خارجیان که غیرت لری له پاکستان څخه د تروریستانو د راتګ مخنیوی وکړی او د ناټو تربیه شوی تروریستان دی له کومی بلی لیاری بل هیواد ته له جناب بن لادن سره ولیږی؟!
ډیره د حیرانتیا خبره خو داده چه افغان ولس ۱۴ کاله د جهاد په مقدس نام وینی تویی کړی، لیکن کله چه شورویان ووتل او نور جهاد اسلامی او قانونی مشروعیت له لاسه ورکړ، د جهاد په نام جګړه لا ګرمه شوه!
اوکله چه د ملل متحد دسولی انسانی پلان د تطبیق په درشل کی وه نو بیا د برق په شان د پرون ټول اختلافات او تضادونه او ۱۴ کاله نه ستړی کیدونکی جګړه، دا هرڅه هیر شول او د بیګانوو تر رهبری لاندی د پرون پرچمی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

وطن فروشان له جهادی دین فروشانو سره دفعتاً د شمال په لعنتی ائتلاف کی سره یو ځای شول او د سولی انسانی پلان یی د حیوانی ارزوګانو( د قدرت نامشروع غصب کول) د ترسره کولو په خاطریی وطن داسی وران کړ چه اوس له شرقه تر غربه او له تورو پرچمیانو نیولی ترسرو جهادیانو یو هم د عملی مستقلی دفاع او یا هم د سولی د رامنځته کیدو همت نلری!

او داسی فکر کیږی چه ۱۴ کلنه جګړه یوه ډرامه وه، او دا ډرامه لاتر اوسه لا دوام لری؟!

پخوا ویل کیدل چه که مجاهدین قدرت ونیسی نو به په وطن کی سوله راشی خو چا دا سوله ونه لیدله، که یی یو علت د مجاهدینو چور او چپاول، اود خلکو په سر مال او ناموس یی لوبی کول وه، خو له بلی خوا د ډیورنډ زخم هم د سرطان درجی ته رسیدلی دی او چه ترڅو دا د سرطان دانه موجوده وی جګړه به هم وی.

او کله چه جهادیان د (اسمانی) فرشتو له لاسه ماته وخوړه او مات شول او دا فرشتی هم د پنجاب ساخت وی، خو بیا هم سوله را منځته نشوه او حتی د کلتور پزه مو هم پکی له منځه ولاړه. او حتی د پلرو او نیکونو هډوکی مو هم د پنجاب په بازاروکی خرڅ شول، او پنجابی میچنی ور باندی ستړی شوی، او اوس د ټولی نړی قوواوی په افغانستان کی جنګیږی خو بیا هم سوله نشته ؟

آیا ځوک داسی رژیم پیژنی چه د هغه له پاکستان سره جنجال نوی راغلی ؟ آیا په آینده کی به هم ممکنه وی داسی یو رژیم را منځته شی چه له هغه سره به پاکستان په روغه ژوند و کړی؟

آیاجهادی رژیم د پنجاب ساخت نه وه؟

آیا طالبی رژیم د پنجاب ساخت نه وه؟

آیا اوسنی جهادی، امریکایی او ګنج الفساد رژیم د پنجاب په موافقه جوړ نشو؟

که په راتلونکی کی پنجابی طالبان ، القاعده او نور تروریستان د ډیورنډ له هغی خوانه راځی نوڅوک به د هغوی مخه ونیسی؟

دا اوسنی اجیره اردو چه د ځوتنو طالبانو څخه له سربازه تر ځلور ستوری جنرالانو پوری په خاپوړی منډی وهلی؟ کولای شی چه د وطن د مور پت او ننګ وساتی؟

د سولی د خبرو له شروع کیدو سره سره د شمال د لعنتی ډلی ټپلی د جاه طلبانو په وجود کی سپکی لړزی خپری شوی او داسی نه معلومیږی چه د قدرت د لاسه ورکولو ته دی تیار وی، بلکه داسی څرګندیږی چه د پخوانیو یارانو په کمک به بیا د سولی د انسانی پلان پرضد خپلی مقابلی ته تر هغو دوام ورکړی ترڅویی چه توان او طاقت وی او چه له توان څخه یی خبره خلاصه شوه نو به له اشغالګرو سره د پخوا پشان قراردادو ته مخه کړی ترڅو په غصب شوی قدرت کی پاته شی.

نو ددی لعنتی د سرطان له دانی سره باید څنګه برخورد وشی؟ آیا دا د سرطان دانه به د پخوا پشان د پنجابی سرطانی دانی سره د ماسکو په ماشین کی یو ځل بیا له نورو حرفوی وطن فروشانو سره یوځای نشی؟

آیا د سولی د راوستلو لپاره لازمه وه چه یو بیطرفه ملی شخصیت باید د سولی د عالی شورا رییس شوی وای، او که د سولی عملی دشمن؛ برهان الدین ربانی چه د سولی اولی پروګرام د ده د جمعیت اسلامی، دوستم «خالد بن ولید»، ببرک کارمل، مزاری، محقق، خلیلی او نورو جاه طلبانو او وطن فروشان او دین فروشان ول چه نه تنها د سولی انسانی پلان یی وران کړ بلکه ملی اردو، ملی حاکمیت او استقلال یی هم له منځه یوړل او نتیجه داوه چه وطن یی پنجابی دشمن ته پریشود او ځانونه یی تر آمو سند هغه خواته ورسول؟

د سولی لپاره د یوی ملی بیطرفه، وطن دوسته او با احساسه افغانانو جرګی ته ضرورت ده، نه د پرون وطن دشمنه غلو، داړه مارانو او دین او وطن فروشانو جرګی ته.

پدی باره کی باید مسوؤل مقامات غور وکړی او د جرګی په ترکیب کی وطن دوستان داخل او د وطن دشمنان د سولی د مبارکی جرګی په عوض باید د صحرایی محاکمی خواته بوزی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ